AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۱۰/۱۴

# چا او چېرته د «بنځو» يادول بې‌غيرتي ده؟



دا ليکنه سياسي نه‌ده. يوه ټولنپوهنيزه – فرهنګي شننه ده او په دې راڅرخي، چې د ښځو يادول ولې بې‌غيرتي ګڼل کېږي؟ دا ليکنه کوم ځانګړي قوم يا ملت ته هم اشاره نه‌کوي، بلکې هرځای له هغو شرايطو سره سمون لري، چې دا پرهېز (ټابو) پېکې شته.

لومړی بايد غيرت و پېژنو. غيرت د «غَ یَ رِ» له مادې څخه بل (غير) ته پاملرنه او بل (غير) ترنظر لاندې راوستل او يا هم د پام محور ګرځول او په اصطلاح کې متفاوتې يا متغييرې اخلاقي ځانګړنې لرل دي، چې د بل په وړاندې پېښيږي. په ټولنيز چارچلند کې دا د رخې، حسد، حميت، ناموس‌پالنې، زړورتيا او نفسي پياوړتيا په ماناوو اخيستل کېږي. غيرت يو عملي يا رواني غبرګون دی، چې شخصي حريم ته د ګواښ پېښېدا پرمهال راڅرګندېږي. په بله وينا غيرت هغه مهال راپاريږي، چې شخصي حريم او ناموسي ارزښتونه وګواښل شي. غيرت د بدامنۍ د احساس په وړاندې انساني غبرګون دی. هلته چې امنيت او قرارداد شوی نظم تأمين وي او انسانان د خپلو حريمونو د خونديتوب ډاډ ولري، په داسې موقعيت کې د غيرت حدود هم رالنډيږي، ځکه اړتيا يې نه‌وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په بدامنه، بداخلاقه او بې‌نظمه ټولنو کې ښځې په ناموسي حريم کې ترټولو زيان‌منونکې دي، ځکه خو يې د هرډول خونديتوب او مصئونيت نقض ډېرحساسيت راپارولی شي.

د ښځو حضور او وجود په هغه ځای کې ممنوع، پرهېز (ټابو) او حساسيت پاروونکی ګڼل کيږي، چې رواني او فيزيکي امنيت يې ګواښل کېدای شي. هرڅومره چې د نارينه‌وو له خوا د ښځو په وړاندې د بدامنۍ ګواښ زياتيږي، هماغومره يې وجود او حضور نفی کيږي، تر دې بريده چې د ډېرو خطرپېښوونکيو نارينه‌و په ټولنه کې د ښځو نوم يادول او په اړه يې خبرې کول هم په يوه پرهېز بدليږي او ټابو ګرځي.

د ښځو د حضور او وجود دومره ناموسي کول، سانسور او ممنوع‌ګرځول په حقيقت کې هغوی ته د نرينه‌وو د ګواښ زياتوالی څرګندوي. هرځای چې د ښځو په اړه ډېر غيرت راپاريږي، هلته ښځه امنيت نه‌لري، غيرت غبرګون دی. د ښځې په وړاندې د بدامنۍ لپاره لا له وړاندې ترسره کېدونکي احتياطي تدبير دی.

هغه نارينه چې پخپله ښځو ته زيات ګواښ پېښوي، د نورو نارينه‌و له خوا خپلو مېرمنو ته د ګواښ‌پېښولو ډېر احساس کوي، له همدې کبله يې د ناموسي احتياط (غيرت) غورې دربې زياتې وي. دغه ګواښ هرومرو فيزيکي نه‌وي، بلکې رواني او احساسي هم وي. په هغو ټولنو کې د ښځو د بشپړ پوښښ وسوسه ډېره وي، چې نارينه يې ښځې په سترګو داړي. په سترګو د ښځمنو داړونکيو (چشم‌چران) نارينه‌و په چاپېريال کې د ښځو د پوښښ او پټولو هڅه ډېره کيږي. په هغو ټولنيزو چاپېريالونو کې چې بدروزلې (بې‌تربيت) نارينه ښځو ته ناسمې، بې‌اړتيا خبرې کوي يا پرزې ورته وايي، هلته ښځمنې له ټولنيز حضوره تښتي او نه‌غواړي له رواني بې‌امنيتۍ وځوريږي. ښځو ته ورپېښې بدامنيتی له ټولنيز چاپېريال څخه د ښځو د غيابت لامل دی او د دې پېل د نارينه‌و له بداخلاق چلند څخه پيليږي.

هغه نارينه چې پخپله نيمګړي وي، يا ډېر بدرنګ وي، يا يې چلند ډېر تاوتريخجن، ګرومي (عقده‌مند) او ناوړه وي هغوی ترنورو زيات له ټولنيز چاپېرياله د ښځو د غيابت او ورکولو د غيرت دعوې کوي. په هغو ټولنو کې چې قوانين حاکم وي، پوليسي ځواک ټولنه د جرايمو او بدامنۍ په وړاندې خوندي ساتي او ښځې کړای شي پخپله اراده خپل امنيت خوندي کړي، هلته د ښځو حضور او وجود عادي دی او د فرهنګي اړتيا له مخې يې نوم يادول هم پرهېز نه‌وي. هلته ښځه د نارينه په شان خپل ټولنيز ماهيت پخپله ټاکي او حضور (وجود) يې عادي ګڼل کيږي.

په پښتنو کې لومړنی سياسي – روحاني غورځنګ د روښانيانو دی، چې په‌کې ښځې څرګند او ارادي حضور- وجود لري. بي بي شمسو د پير روښان مېرمن له هغه سره په ګڼو جګړو کې ملګرې وه. د پير روښان لمسۍ د جلال الدين روښاني لور او د احداد مېرمن چې پخپله فرهنګيالۍ، سياستواله او جنګيالۍ مېرمن وه، دوی ځکه خپل حضور او وجود په سياسي ټولنيز ډګر کې څرګند کړی، چې د خپل حريم او امنيت ساتنې لپاره بل چا ته اړ نه‌وې او پخپله يې خپل امنيت له هره اړخه ساتلای شو. دوی په فرهنګي ډګر کې هم ځلېدلي دي. تر دې روسته خوشال خان خټک هغه افغان مشر دی، چې بې‌پردې د مېرمنو په اړه خبرې کوي. دی د خپلې کورنۍ د ښځو په اړه په زغرده غږيږي، ځکه هم دی باور لري او هم يې د چاپېريال مېرمنې چې رواني او فيزيکي امنيت يې خوندي دی. د ده په کورنۍ کې هم شاعرانې، سياستوالې او مبارزينې راهسکې شوې دي. د دې دواړو کورنيو په وړاندې که متحجرو شيخانو هرڅومره تورونه لګولي، خو تاريخ نه‌دي منلي. د پيرروښان او له ښځو سره د هغه انساني روښانفکرانه چلند په اړه د اخوند درويزه او نورو تورونه هيڅکله جدي نيول شوي نه‌دي.

د ښځو د نوم نه‌يادول غيرت ګڼل ناپوهي ده، ځکه په دې کې د يوه ټولنيز چاپېريال نرينه بداخلاقه، چيرسترګي او بې‌حيا زباتيږي، چې د ښځو لپاره خوندي چاپېريال ګواښي او د ښځو پروجود و حضور بنديز غيرت بولي.

ټولنه ښايي له اخلاقي پلوه د سمون هغه بريد ته ورسيږي، چې ښځې له انساني دايرې وتلی مخلوق ونه‌بلل شي. نرينه ښايي د خپلو فکرونو، نظرونو، لاسونو او نيتونو پاکۍ ته دومره پام وساتي، چې ښځې د بدامنۍ احساس ونه‌کړي. په ټولنه کې قوانين، نظم او امنيت د غيرت حس خپلو طبيعي او مثبتو حدودو ته رامحدودوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ